Diwan
International Scientific and Research Journal
مجله علمی تحقیقی بین المللی دیوان
ISSN: 2706-6428 / E-ISSN: 2707-7462

143-169 : Pages / صفحات، 2026 :Year / سال، 2 :Issue / شماره، 7 :Vol / جلد ISSN: 2706-6428 E-ISSN: 2707-7462

# د قتل په جرم کې د اسلامي شریعت خلاف دودونو رول: د خوست ولایت د سموات کلی موردی مطالعه

# دور الأعراف والعادات المنافية لأحكام الشريعة الإسلامية في جريمة القتل: دراسة ميدانية على قرية سموات بولاية خوست

# The Role of Traditions Contrary to Islamic Sharia in the Crime of Murder: A Case Study of Samawat Village, Khost Province

# Öldürme Suçunda İslam Şeriatine Aykırı Örf ve Âdetlerin Rolü: Host Vilayeti Semavat Köyü Üzerine Bir Vaka Çalışması

محمد خالد خاورین[1*]، عبدالناصر ستانکزی[2]

**لنډیز**

دغه څېړنه د خوست ولایت د اسماعیل خېلو او مندوزیو ولسوالیو د سموات کلی فرهنګي او قومي فکټورونو کې د وژنې پېښو د رامنځته کېدو عوامل او اغېزې څېړي. په دې سیمه کې د قتل پېښې په پراخه کچه د کلتوري باورونو، دودیزو رواجونو، او قومي تقاضاوو له امله رامنځته کېږي، چې اکثره یې د عزت او شرم مفاهیم، د وینې غچ (انتقام)، د شخړو د منابعو لکه ځمکې، او د ودونو پورې اړوند شخړې دي. دغه دودیز باورونه د ټولنې په جوړښت کې ژورې ریښې لري، د انساني ژوند د ارزښت خلاف تاوتریخوالی او قتل تشویقوي. څېړنه څرګندوي چې د رسمي قوانینو کمزورتیا او په جرګې باندې تکیه هم د تاوتریخوالي دوام ته زمینې برابروي. دا څېړنه د کیفي میتودو په کارولو د قتل د کلتوري او قومي فکتورونو په اړه علمي تحلیل کوي. د معلوماتو راټولولو لپاره مرکې له قومي مشرانو او قربانیانو سره او ځانګړې پوښتنلیکونه له سموات له کلی څخه اخیستل شوي، او هدفمنده نمونه په خوست ولایت، سموات کلی کې انتخاب شوې ده. څېړنه له امنیتي محدودیتونو او د معلوماتو ورکولو د ځینو خلکو ناغېړي سره مخ وه، خو د اخلاقي اصولو په مراعتولو سره په ګډونوالو کې د باور او حریم ساتنې ټینګار شوی دی. د دې څېړنې پایلې وړاندیز کوي چې د وژنو د مخنیوي لپاره باید کلتوري موانعو ته د مناسبو لاربښوونو او عامه پوهاوي د زیاتوالي له لارې د ناوړه دودونو له منځه وړلو په ګډون جامع، کلتوري پلې کېدونکو او سوله ییزو تدابیرو ته لومړیتوب ورکړل شي. سربېره پر دې، د رسمي او دودیزو عدلي سیستمونو پیاوړتیا، اقتصادي فرصتونو پرمختیا، او د ټولنیزې همغږی لوړول دې ته اړتیا ده چې د دغه تاوتریخوالي کړی ماته کړي او په ټولنې سوله ټینګه کړي.

**کلیدی کلمات**: پخوانی دودونه، جرګه، عرفی عدالت، قومي عوامل، کلتوري عوامل، ناموس وژنه، وژنه، وینې غچ

CC BY NC

DOI:
https://doi.org/10.69892/diwan.2026.151

Research Article / مقاله تحقیقی

Received Date / تاریخ دریافت
20.12.2025

Accepted Date / تاریخ قبول
18.04.2025

Publication Date / تاریخ نشر
28.07.2026

[1] پوهنمل دوکتور، د حقوقو ځانګه، د حقوق او سیاسی علومو پوهنځی، د پکتیا پوهنتون، پکتیا، افغانستان

[2] پوهندوی، د روابط بین الملل ځانګه، د حقوق او سیاسی علومو پوهنځی، د پکتیا پوهنتون

ORCID
0000-0003-3313-2061
0009-0002-3835-4472

E-Mail
mk.ahmadzai@yahoo.com
Nstanikzai.2021@gmail.com

این مقاله توسط نرم افزار تورنیتین Turnitin بررسی شده Plagiarism یا سرقت ادبی تثبیت نگردید.

This article has been scanned by Turnitin. No Plagiarism detected.

**نحوۀ ارجاع دهی از این مقاله در پاورقی / Citation:**

محمد خالد خاورین- عبدالناصر ستانکزی "د قتل په جرم کې د اسلامي شریعت خلاف دودونو رول: د خوست ولایت د سموات کلی موردی مطالعه" *مجله دیوان* ۲/۷ (سرطان ۱۴۰۴)، ۱۴۳-۱۶۹.

Mohammad Khalid Khawrin - Abdul Naser Stanikzai, “The Role of Traditions Contrary to Islamic Sharia in the Crime of Murder: A Case Study of Samawat Village, Khost Province”, *Diwan Journal* 7/2 (July 2026), 143-169.

**الملخص**

تبحث هذه الدراسة في كيفية تأثر حوادث القتل بالخصائص الثقافية في قرية سموات التابعة لمديريتي إسماعيل خيل ومندوز في ولاية خوست. ويُعزى الارتفاع الكبير في معدلات القتل في هذه المنطقة في الغالب إلى القيم الثقافية المتجذرة والعادات والتوقعات القبلية، والتي تتمحور غالبًا حول مفاهيم الشرف والعار، والثأر (الانتقام)، والنزاعات على الأرض والموارد، إضافة إلى الخلافات الزوجية. ورغم أن هذه المعتقدات التقليدية راسخة بعمق في المجتمع، فإنها تُسهم في دعم العنف والقتل بما يتعارض مع قيمة الحياة الإنسانية. وتُبرز الدراسة كذلك أن الاعتماد على نظام الجرگه (المجالس الشعبى) إلى جانب أوجه القصور في تطبيق القوانين الرسمية يسهم في استمرار دوائر العنف. وتعتمد هذه الدراسة على المنهج النوعي لتحليل دور العوامل الثقافية في جرائم القتل. وقد جُمعت البيانات من خلال استبيانات مُصمَّمة خصيصًا لمختلف المجموعات، إضافة إلى إجراء مقابلات مع الضحايا وحوارات مع القادة القبليين. وتم اختيار العينة المستهدفة من ولاية خوست. كما تؤكد الدراسة على ضرورة الالتزام بالمبادئ الأخلاقية أثناء البحث، ولا سيما احترام خصوصية المشاركين، في ظل التحديات الأمنية واحتمال تقديم بعض الأفراد معلومات غير دقيقة.

**الكلمات المفتاحية**: التقاليد القديمة، (جرگه) مجلس الشورى، العدالة العرفية، العوامل القوميَّة، العوامل الثقافية، جرائم الشرف، قتل، ثأر الدم

**Abstract**

This study looks into how Samawat Village, which is in the Khost Province's Ismail Khel and Manduz districts, is affected by cultural and ethnic characteristics when it comes to homicide incidents. The high rate of homicides in this region is mostly due to ingrained cultural values, customs, and tribal expectations; these frequently center on ideas like honor and shame, blood vengeance (vendetta), land and resource conflicts, and marital disagreements. These conventional beliefs support violence and killing in opposition to the value of human life, even though they are firmly ingrained in society. The study emphasizes how reliance on jirgas and flaws in official legal enforcement contribute to the continuation of violent cycles. The usage of ethnic and cultural variables in the murder is examined in this qualitative study. Information was gathered through customized questionnaires from various ethnic groups, conversations with victims, and interviews with ethnic leaders. The province of Khost is where the target sample was chosen. It is stressed to respect the ethical principles of the participants and to preserve their privacy when researching security limits and providing incorrect information to some individuals.

The usage of ethnic and cultural variables in the murder is examined in this qualitative study. Information was gathered through customized questionnaires from various ethnic groups, conversations with victims, and interviews with ethnic leaders. The province of Khost is where the target sample was chosen. It is stressed to respect the ethical principles of the participants and to preserve their privacy when researching security limits and providing incorrect information to some individuals.
**Keywords:** Ancient Traditions, Jirga (Council of Elders), Customary Justice, Ethnic Factors, Cultural Factors, Honor Killing, Murder, Blood revenge

**Özet**

Bu çalışma, Khost vilayetinin İsmail Khel ve Manduz ilçelerinde bulunan Samawat Köyü'nün, cinayet olayları söz konusu olduğunda kültürel ve etnik özelliklerden nasıl etkilendiğini incelemektedir. Bu bölgedeki yüksek cinayet oranı, çoğunlukla yerleşik kültürel değerler, gelenekler ve aşiret beklentilerinden kaynaklanmaktadır; bunlar sıklıkla onur ve utanç, kan intikamı (vendetta), toprak ve kaynak çatışmaları ve evlilik anlaşmazlıkları gibi fikirler etrafında yoğunlaşmaktadır. Bu geleneksel inançlar, toplumda sıkıca yerleşmiş olsalar bile, insan hayatının değerine karşı şiddeti ve öldürmeyi desteklemektedir. Çalışma, jirgalara olan güvenin ve resmi yasal uygulamadaki kusurların şiddet döngülerinin devamına nasıl katkıda bulunduğunu vurgulamaktadır. Bu nitel çalışmada, cinayetlerde etnik ve kültürel değişkenlerin kullanımı incelenmiştir. Bilgiler, çeşitli etnik gruplardan özel olarak hazırlanmış anketler, mağdurlarla yapılan görüşmeler ve etnik liderlerle yapılan röportajlar yoluyla toplanmıştır. Hedef örneklem, Khost vilayetinde seçilmiştir. Araştırma yapılırken güvenlik sınırlarına uyulması ve bazı kişilere yanlış bilgi verilmesi durumunda katılımcıların etik ilkelerine saygı gösterilmesi ve gizliliklerinin korunması gerektiği vurgulanmaktadır. Bu nitel çalışmada, cinayetlerde etnik ve kültürel değişkenlerin kullanımı incelenmiştir. Çeşitli etnik gruplardan özel olarak hazırlanmış anketler, mağdurlarla yapılan görüşmeler ve etnik liderlerle yapılan röportajlar yoluyla bilgi toplanmıştır. Hedef örneklem Khost ilinden seçilmiştir. Araştırma yapılırken güvenlik sınırlarına uyulması ve bazı kişilere yanlış bilgi verilmesi durumunda katılımcıların etik ilkelerine saygı gösterilmesi ve gizliliklerinin korunması gerektiği vurgulanmaktadır.

**Anahtar Kelimeler:** Eski Gelenekler, Cirga (Büyükler Meclisi), Geleneksel Adalet, Etnik Faktörler, Kültürel Faktörler, Namus Cinayeti, Cinayet, Kan İntikamı

**سریزه**

بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على المرسلين وعلى آله واصحابه اجمعين.

﴿وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾.[۱] *ژباړه: "او څوک چې کوم مومن په قصد سره ووژني نو جزا يې دوزخ دی، تلپاتې په هغه کې او الله تعالی پرې غضب کړی لعنت يې پرې ويلی او ستر عذاب يې ورته تيار کړی دی".*

د ناموس قتل (Honor Killing) يو ډول جرم دی چې پکې د کورنۍ د يو غړي وژل شامل وي. دا کار هغه وخت ترسره کېږي کله چې مرتکب په دې باور وي چې متضرر د کورنۍ لپاره رسوايي يا بدنامي راوړې ده، يا يې د يوې ټولنې يا دين هغه اخلاقي ارزښتونه تر پښو لاندې کړي دي چې د ناموس او عزت پر بنسټ ولاړ وي. نو ځکه د ناموس قتل د کورني تاوتريخوالي يو ډول بلل کېږي، يعني په پراخه مانا د کورنۍ په دننه کې د تاوتريخوالي يوه بڼه ده. د ناموس د وژنو قربانيان هم نارينه او هم ښځې کېدای شي. د وژنې ګواښ اکثره وخت د خلکو د چلند د کنټرول لپاره کارول کېږي، په ځانګړي ډول د جنسي اړيکو او واده په اړه. ډېری وخت د دې جرم ترسره کوونکي په خپلو ټولنو کې له منفي بدنامۍ سره نه مخ کېږي، ځکه چې د هغوی عمل د ټولنې له نظره يو ډول توجيه شوی ګڼل کېږي.[۲]

د يوسف القرضاوي په کتاب "فقه الجريمة والعقوبة في الإسلام"کې د عرف (دود) په اړه وايي چې دا د تعزيري عقوباتو کې يو مهم معيار دی، خو د شرعي حدودو په خلاف نشي غوښتل کېدلی. عرف د جرايم د عمد يا شبه عمد په پېژندنه کې مرسته کوي، لکه هغه اعمال چې عرفاً "غالباً وژونکی"ګڼل کېږي، خو قرضاوي ټينګار کوي چې عرف د شريعت له مقاصدو (د نفس، نسل او عقل ساتنه) سره بايد سمبال شي او نشي کولی دوديز قتل (لکه عزت او شرف جرايم) ته مشروعيت ورکړي.[۳]

افغانستان يوه ډېره پېچلي، قومي، ژبنۍ او کلتوري ډوله ټولنه ده، چې د اوږدو شخړو، سياسي بې ثباتۍ، او نيمګړو قانوني نظامونو له امله پکې جنايي پېښې، په ځانګړي توګه قتل، په يو جدي ټولنيز بحران بدل شوی دی. سره له دې چې د قتل د ارتکاب ګڼ شمېر علتونه شته، خو يو شمېر پېښې داسې دي چې ريښې يې په کلتوري ارزښتونو، دودونو، او قومي تعصباتو کې نغښتي دي.

---

[۱] النساء۴/ ۹۳

[2] Saeed Shoja Shafti, "Shame Killing: Characteristics and Outlooks", *Annals of Public Health & Epidemiology* 1/3 (2020), 1–6.

[۳] يوسف القرضاوي، *فقه الجريمة والعقوبة في الإسلام* (القاهرة: مكتبة وهبة، ۲۰۰۱ م)، ۲۹۵-۲۹۰.

د ناموس په نوم وژنې، د قبايلي دښمنيو له امله غچ اخيستنې، د قومي تعصب پر بنسټ تاوتريخوالی او د دوديزو حل لارو (جرگې) له امله د انساني ژوند له منځه وړل هغه پېښې دي چې قانوني اصول تر پښو لاندې کوي او ټولنه د يو ډول غير رسمي عدلي نظام تر اغېز لاندې راولي. په افغانستان کې د همدې کلتوري او قومي فکتورونو له امله د قتل د جرمونو پېژندنه تر ډېره د کمو څېړنو او محدودو علمي منابعو پورې محدوده پاتې شوې ده. دا علمي تشه دا پوښتنه راولاړوي چې: تر کومه بريده کلتوري ارزښتونه او قومي تعصبات د قتل د ارتکاب اصلي عوامل دي، او ولې رسمي قانون د دغو مواردو په کنټرول کې پاتې راغلی دی؟ همداراز، دا ستونزه د دې اړتيا هم رامنځته کوي چې د ټولنيز، حقوقي او کلتوري اړخه د دې پېچلي موضوع تحليلي مطالعه وشي، تر څو د ستونزې واقعي انځور وړاندې شي او د حل وړانديزونه ترې ترلاسه شي.

دا څېړنه له دې امله ارزښت لري، چې د افغاني ټولنې د يوې جدي ستونزې علمي څېړنه کوي. دا موضوع نه يوازې د حقوقو او جرم پېژندنې له اړخه مهمه ده، بلکې د ټولنيزو علومو، کلتور او سولې اړخونو ته هم ژورې معناوې لري. د دې څېړنې پايلې کولای شي د قانون جوړونکو، فرهنگي فعالانو، ديني علماوو، او ټولنيزو بنسټونو لپاره د حل او اصلاح زمينه برابره کړي. څېړنه ښيي چې کلتوري او قومي عوامل د عزت پر بنسټ تاوتريخوالي، دوديزو باورونو، او اجتماعي او انفرادي کلتوري ابعادو له لارې د وژنې په لاملونو باندې د پام وړ اغيزه کوي، پداسې حال کې چې دوديز درملنې کړنې د ټولنيزې ستونزې په مديريت کې مهم رول لوبوي، چې د اصلاحی پاملرنې او جنايي عدالت دواړو سيستمونو کې کلتوري پلوه دقيق چلند ته اړتيا لري.

**دڅېړنې موخې**

۱. د خوست ولايت د اسماعيل خېلو او مندوزيو ولسوالی د سموات کلي فرهنگي او قومي فکتورونو کې د قتل د ارتکاب څېړل؛

۲: د خوست ولايت د اسماعيل خېلو او مندوزيو ولسوالی د سموات کلي د خلکو خراب دوديز باورونه او فرهنگي ارزښتونه د حل لاملونه پېژندل؛

۳: د خوست ولايت د اسماعيل خېلو او مندوزيو ولسوالی د سموات کلي د بېلابېلو قومونو فرهنگي فکتورونو کې د قتل پېښو لاملونه بررسی کول؛

۴: د جرمونو د مخنيوي په موخه د سموات د کلی د فرهنگي او قومي فکتورونو مديريت کې اغيزمنې لارې چارې معلومول.

**د څېړنې پوښتنې**

۱. د خوست ولايت د اسماعيل خېلو او مندوزيو ولسوالی د سموات کلي فرهنگي او قومي فکتورونه څنگه د قتل د ارتکاب پر عمل اغيزه کوي؟

۲. د خوست ولایت د اسماعیل خېلو او مندوزیو ولسوالۍ د سموات کلي د خلکو خراب دودیز باورونه او فرهنګي ارزښتونه څنګه حل کولای شو؟
۳. د خوست ولایت د اسماعیل خېلو او مندوزیو ولسوالۍ د سموات کلي د بېلابیلو قومونو فرهنګي فکتورونه څنګه د قتل پېښو ته زمینه برابروي؟
۴. د جرمونو د مخنیوي په موخه د سموات د کلی د فرهنګي او قومي فکتورونو مدیریت لپاره کومې لارې چارې اغېزمنې ثابتیدی شي؟

**تیرو څېړنو ته کتنه**

د کلتور، توکم او جرمي چلند ترمنځ اړیکه د مطالعې یوه پېچلې ساحه ده چې په وروستیو کلونو کې یې د څېړونکو ځانګړې پاملرنه ځانته راارولې ده. دغه څېړنه بېلابېلې جغرافیایي سیمې او بیلابیلې میتودولوژیکي طریقې رانغاړي او د تاوتریخوالي د ریښو تر څنګ د دودیزې پوهې د ګټورو اړخونو په اړه هم عامه پوهاوی زیاتوي. وروستیو څېړنو ښودلې ده چې کلتوري او قومي عوامل د وژنې په جرمونو کې مهم رول لري. څېړونکو د قومي ډلو ترمنځ پرتلیزې شننې ترسره کړې دي، په غیر لویدیځو ټولنو کې د وژنې د جرم د صحنې جوړونې پدیده څېړلې ده،[4] د بېلابېلو ټولنیزو ـ کلتوري ډلو ترمنځ د ښځو د وژنې بېلګې ارزولې دي[5] او همدارنګه یې د سویلي اسیا په ټولنیزو شرایطو کې د عزت پر بنسټ تاوتریخوالی مطالعه کړی دی.[6]

احمد أبو زید په خپله لیکنه کې د عزت او شرف په نوم جرایم په عربي ټولنو کې څېړلي. دا لیکي چې د عزت او شرف په نوم جرایم کلتوري، ټولنیز، اقتصادي او سیاسي لاملونه لری چې دا عملونه په دوام داره توګه د قبیلې ویاړ، نرینه والي او د ځمکې شخړې سره تړاو لري. دا لیکنه دغه جرایم د یو ټولنیز سیستم په توګه ګوري چې د فرد پر ځای د قبیلې مشروعیت لري، نه د ساده جرمونو په څېر او د نابرابرۍ او د ویاړ کلتور څخه څرګندیږي.[۷]

دا څېړنه ښیي چې د وژنې په نمونو کې د پام وړ قومي او کلتوري تنوع شتون لري. په اسراییل کې د یهودي او عربي وګړو ترمنځ ترسره شوې پرتلیزه څېړنه څرګندوي چې د وژنې د صحنې جوړښت یا د وژنې د جرم د صحنې جوړونې پدیده د وژنې په انګیزو، د متضررینو په ځانګړتیاوو

[4] Hava Dayan, "Ethnocultural Diversity in Homicide Crime Scene Staging," *Homicide Studies* 28/1 (February 2024), 99–121.

[5] Tanya L. Sharpe et al. "Exploring Research on the Coping Strategies of Black Survivors of Homicide Victims: A Scoping Review," *Homicide Studies* 29/1 (February 2025), 6–44.

[6] Neeha Noor, "Honor or Oppression? A Critical Discourse Analysis of Media Representation of Honor-Based Violence Against Women in South Asia," *International Review of Social Sciences* 13/3 (2025), 12–24.

[۷] أحمد أبو زید، *جرائم الشرف في المجتمعات العربیة: دراسة سوسیولوجیة* (جامعة الكویت: مجلة العلوم الاجتماعیة، ۱۹۹۶)، ۱۵۰-۱.

او د متضرر او مجرم ترمنځ په اړیکو کې قومي توپیرونه لیدل کېږي.[8] څېړنې دا هم موندلې چې په اسراییل کې د وژنې د جرم د صحنې جوړونې پدیدې بڼه د وسلو د انتخاب او د مرګ د سناریوګانو له پلوه د لوېدیځو ټولنو له نمونو سره توپیر لري او ځینې پېښې د څو واده کولو له دود سره تړاو لري.[9]

د ښځینه وژنې په اړه څېړنې ښیي چې د دې ډول پېښو تکرار او ځانګړتیاوې له کلتوري عواملو سره نږدې اړیکه لري په ځانګړې توګه د فردمحوره او جمعي کلتورونه سره ډېر توپیرونو لري.[10] همدارنګه ټولنیز عوامل لکه د زده‌کړې کچه، ټولنیز، اقتصادي وضعیت او کډوالي کولی شي د ښځینه وژنې پر کلتوري اغېزو مهم رول ولوبوي او کله ناکله یې شدت کم یا زیات کړي.[11]

د عزت پر بنسټ تاوتریخوالی د قتل پر جرم د کلتوري نفوذ یو له اندېښنې وړ عواملو څخه شمېرل کېږي. په پاکستان کې د ۲۰۲۴ کال لومړني معلومات د ناموس په نوم د وژنو د زیاتوالي ښکارندونه کوي، چې ژورې ریښې لرونکي دودونه او ټولنیز باورونه د دغو جرمونو ملاتړ کوي.[12] دا ډول وژنې ډېری وخت د کلتوري دودونو، مذهبي باورونو او د عزت او شرم له مفکورو سره تړاو لري.[13]

## ۱. دودیز باورونه او د ټولنیزې ستونزې حل لارې

د دودیزو معالجوي کړنو د ارزونې په اړه ترسره شوو مطالعاتو د ساحوي بیاکتنو، د کلتوري اصلاحي کړنو د کیفیتي تحلیلونو او په بېلابېلو قومي ټولنو کې د اصلاحي پاملرنې د غوښتونکو د چلند د څېړنو له میتودونو څخه ګټه اخیستې ده.[14] دغه څېړنې ښیي چې دودیز باورونه او کړنې په بېلابېلو کلتورونو کې د اصلاحي پایلو پر ځرګنګوالي ژور اغېز لري.[15] څېړنو دا هم څرګنده کړې چې د درملیزو بوټو پورې تړلې کلتوري ارزښتونه د بېلابېلو ټولنیزو ستونزو په درملنه کې مهم رول لري. د

---

[8] Dayan, "Ethnocultural Diversity in Homicide Crime Scene Staging", 99.

[9] Dayan, "Ethnocultural Diversity in Homicide Crime Scene Staging", 118.

[10] Hava Dayan et al. "Exploring Homicide Diversity: Femicide Across Sociocultural Groups", *Crime & Delinquency* 70/1 (January 2024), 234–256.

[11] Dayan et al. "Exploring Homicide Diversity", 234.

[12] Muhammad Bilawal Khaskheli et al. "Comparative Analysis of Honor Killing Phenomena in China and Pakistan", *Journal of Law and Criminal Justice* 6/2 (2018), 15-34.

[13] Martina Caterini, "Moving Towards More Inclusive Definitions of Femicide: Intersectionality and Marginalised Identities", *Contemporary Challenges: The Global Crime, Justice and Security Journal* 4 (October 2023), 1-22.

[14] Sylvester R. Okeke et al. "Addressing Health Disparities Among Migrants in High-Income Countries: Using Sociocultural Beliefs and Norms as Resources." Handbook of Concepts in Health, Health Behavior and Environmental Health. ed. Pranee Liamputtong. Singapore: Springer Nature Singapore, 2025, 1-20.

[15] Taofeek Kolawole Aliyu et al. "Cultural Themes Related to Oral Health Practices, Beliefs, and Experiences in Nigeria: A Scoping Review", *Oral* 5/2 (2 April 2025), 1-24.

لاسرسي اسانتیا، ټیټ لګښت او دودیز باورونه هغه عوامل دي چې د دغو درملو دوامداره کارونه پیاوړې کوي.[۱۶] په کډوالو او مهاجرو ټولنو کې هم دودیز باورونه او کړنې د افرادو د ناروغۍ په درک او د درملنې په لټه کې د هغوی پر چلند اغېز کوي. هغه اصلاحي پاملرنې خدمتونه چې د ځانګړو ټولنو کلتوري ارزښتونه او دودونه په پام کې نیسي، تر ډېره بریده مثبتې پایلې لري.[۱۷] له همدې امله د شواهدو پر بنسټ د اصلاحي پاملرنې له کړنو سره د کلتوري ارزښتونو یوځای کول هم یوه مهمه ننګونه او هم یو مهم فرصت ګڼل کېږي.[۱۸] په نایجریا کې ترسره شوې څېړنې ښیي چې که څه هم عصري اصلاحي پاملرنه شتون لري، خو بیا هم دودیز باورونه، دودونه او د ټولنیزو ستونزو کلتوري تعبیرونه د ماشومانو او کوچنیانو لپاره د اصلاحي پاملرنې په اړه د کورنیو پر پرېکړو ژور اغېز لري.[۱۹] دا موضوع څرګندوي چې کلتوري چوکاټونه لا هم د اصلاحي پاملرنې د لټون په چلند کې پیاوړی او دوامدار نفوذ لري.

**۲. د قتل د قضیو لپاره کلتوري بنسټونه**

هغه څېړنې چې د وژنې د قضیو لپاره کلتوري بنسټونه بررسي کوي د توهم پر بنسټ تاوتریخوالي جرمي تحلیلونه،[۲۰] په جرم کې د اصلي روحانیت د رول مطالعې[۲۱] او په مختلفو کلتوري شرایطو کې د ناموسي وژنو ازموینې کاروي.[۲۲] د ماشومانو او لویانو په ګډون د متضررینو خلکو په وړاندې د توهم پر بنسټ تاوتریخوالی ښیي چې څنګه دودیز باورونه کولی شي د وژنې قضیو لپاره بنسټ چمتو کړي.[۲۳] په ګانا او کینیا کې، د جادوګرۍ پورې اړوند باورونه او کړنې د وژنو سره تړاو لري.[۲۴]

[16] Oluwafemi Omoniyi Oguntibeju, “The Interrelationship Between Culture and the Use of Medicinal Plants in Healing: Perspective from Selected Cultures and Countries,” *Pakistan Journal of Life and Social Sciences (PJLSS)* 23/1 (2025), 63-83.

[17] Okeke et al., “Addressing Health Disparities Among Migrants in High-Income Countries: Using Sociocultural Beliefs and Norms as Resources”, 17.

[18] Aliyu et al., “Cultural Themes Related to Oral Health Practices, Beliefs, and Experiences in Nigeria”, 16.

[19] Udom Daniel – Victor Ben, “Cultural Definition of Diseases and Healthcare for Infants and Children in Africa: The Experiences in Southeast Nigeria”, *Journal of National Issues* 2/1 (March 28, 2025), 65–74.

[20] Emmanuel Sarpong Owusu, *Superstition-Driven Violence Against Children and the Elderly in Ghana and Kenya: A Criminological Analysis* (England: University of Portsmouth, School of Criminology and Criminal Justice, 2025), 1-247.

[21] Chidimma Evelyn Ojukwu - Makodi Biereenu-Nnabugwu, “Criminals’ Recourse to Indigenous Spirituality and Crisis of Crime Control in Anambra State: A Study in Interpretive Analysis”, *Socialscientia: Journal of Social Sciences and Humanities* 10/2 (Access 20 July 2025), 99-107.

[22] M. Qadeer et al., “Honour of Killing in South Punjab, Pakistan,” *Journal of Applied Linguistics and TESOL (JALT)* 8/2 (May 16, 2025), 690–703.

[23] Owusu, *Superstition-Driven Violence Against Children and the Elderly in Ghana and Kenya: A Criminological Analysis*, 180.

[24] Owusu, *Superstition-Driven Violence Against Children and the Elderly in Ghana and Kenya: A Criminological Analysis*, 189.

د جنايي چلند د عواملو په توګه د اصلي روحانيت او دوديزو عقيدې سيستمونه مستند شوي دي چې د رسنيو راپورونو سره د دوديزو عقيدې پر بنسټ جرمونو فرعي کلتورونه رامينځته کوي.[25] په هرصورت څېړنې دا هم ښيي چې د وژنې تمايلاتو لپاره مثال په دوديز افريقايي ميراث کې ذاتي نه دی، د خطر فکتورونو تر څنګ د محافظتي فکتورونو بررسی کولو اهميت باندې ټينګار کوي.[26] د ناموس وژنې د کلتوري هڅونې له مخې د وژنې يوه سيستماتيک بڼه ليدل کيږي، چې په ټوله جنوبي آسيا کې داسې قضيې ثبت شوي دي چيرې چې کلتوري دودونه اکثرا د تاوتريخوالي توجيه کولو لپاره غلط تعبير کيږي.[27] دا جرمونه په سيمه‌ايزو دودونو او کلتوري نورمونو کې ريښې لري چې د انفرادي حقوقو په پرتله د کورنۍ عزت ته لومړيتوب ورکوي.[28]

د جنايي عدالت د مديريت د ستراتيژيو په اړه هم څېړنې ترسره شوي چې دا څېړنې د ازمايښتي خدماتو تحليلونه،[29] په محافظتي خدماتو کې د اقليتونو د استازيتوب ارزونې[30] او د جرمونو د مخنيوي لپاره د کلتوري پلوه باخبره طريقو مطالعات کارولي دي.[31] دغه څېړنې ښيي چې د جنايي عدالت په سيستم کې د کلتوري او قومي عواملو اغېزمن مديريت د سيستماتيکو ستونزو د حل لپاره هراړخيزو او جامع لارو چارو ته اړتيا لري. د ازمايښتي خدماتو په اړه څېړنې دا هم څرګندوي چې د نژادي برابرۍ د ترلاسه کولو په برخه کې لا هم جدي ننګونې شته، او راپورونه ښيي چې د کلتوري وړتياوو د ستونزو په حل کې د خدماتو پرمختګ د تمې خلاف محدود پاتې شوی دی.[32]

په قانون پلي کوونکو ادارو کې د اقليتونو استازيتوب د کرکې پر بنسټ جرمونو د کمېدو په برخه کې مثبت اغېز لري، خو دا ګټې په ټولو اقليتي ډلو کې په مساوي ډول نه وېشل کېږي او تر ډېره د ټولنې له نژادي جوړښت سره تړاو لري.[33] څېړنې ښيي چې د تورپوستو او آسيايي افسرانو حضور

---

[25] Ojukwu - Biereenu-Nnabugwu, “Criminals’ Recourse to Indigenous Spirituality and Crisis of Crime Control in Anambra State”, 99.

[26] F. Mencken - Paul Froese, “Gun Culture in Action. Social Problems”, *Social Problems* 66 (20 November 2017), 1–25.

[27] Qadeer et al., “Honour of Killing in South Punjab, Pakistan”, 690-703.

[28] Z. Islam, “Dynamics of Rural Crime in South Asia: A Criminological Overview”, *International Journal of Social Science, Technology and Economics Management* 1 (2024), 289–310.

[29] John Wainwright et al., “A Lack of Cultural Understanding and Sometimes Interest: Towards Half a Century of Anti-Racist Policy, Practice and Strategy within Probation,” *Probation Journal* 71/2 (June 2024), 116–138.

[30] Sanghee Park - Yesse Charles Mwihambi, “Reducing Hate Crimes: The Role of Racial Contexts and Minority Representation in U.S. State Protective Services”, *Public Performance & Management Review* 48/3 (4 May 2025), 497–524.

[31] Brandon C. Welsh - Eric L. Piza, “Crime Prevention for Social Impact and Social Justice: The Ideals, the Challenges, the Progress”, *The ANNALS of the American Academy of Political and Social Science* 714/1 (July 2024), 8–21.

[32] Wainwright et al., “A Lack of Cultural Understanding and Sometimes Interest”, 130.

[33] Park - Charles Mwihambi, “Reducing Hate Crimes”, 499.

د هغوی اړوندو ټولنو کې د قربانیانو پر وړاندې د تبعیض کچه په پام وړ ډول راکموي.[۳۴] همدارنګه د جرمونو د مخنیوي لپاره کلتوري پلوه باخبره لارې چارې د دې ټینګار کوي چې د بېلابېلو ټولنیزو ډلو ځانګړې کلتوري تجربې باید په سمه توګه وپېژندل شي.[۳۵] په دې برخه کې سپارښتنې دا دي چې د پولیسو لپاره کلتوري پلوه باخبره روزنه برابره شي او د رسمي جنایي عدالت په سیستم کې کلتوري پوهه او درک هم ورګډ شي.[۳۶]

### ۳. انتقادي ارزونه

دا څېړنه د میتودولوژیکي تنوع ښودنه کوي، د پرتله کولو تحلیلونو، د ساحې بیاکتنو، او په ډېرى جغرافیایي شرایطو کې کیفي مطالعاتو څخه کار اخلي. د غیر لویدیځ ټولنو شاملول ارزښتناکه کلتوري لیدلوري چمتو کوي چې ډیرى وختونه په جرمي څېړنې کې نه معلومیږي.[۳۷] جرائم الشرف في الفقه الإسلامي والقانون کتاب کې ناموس وژنو موضوع له اسلامي فقهي او قانوني توګه څېړل شوې چې پر دې ټینګار کوي چې دا ډول جرمونه په شریعت کې په بشپړه توګه حرام دي او د شریعت د مقاصدو لکه د نفس او نسل ساتنه پر بنسټ یې حراموالی په روښانه توګه ثابتوي. دا روښانه کوي چې د ناموس په پلمه قتل، که څه هم عرفي ښکارندویي ولري، عقلاً او شرعاً باطل دی، ځکه هدف هیڅکله د وسیلې توجیه نه شي کولی؛ بلکې کتاب د دې جرم د حرمت قوي دلایل، د جزا ورکولو اصول (لکه تعزیر)، د قاضي د سزا ټاکلو اجتهادي صلاحیت او په فقهي متونو کې د مخنیوي عملي لارې په تفصیل سره څېړي، په ځانګړې ډول دا روښانه کړه چې په اسلامي فقه کې هیڅ شرعي نص نشته چې د ناموس وژنې ته مشروعیت ورکړي.[۳۸]

د الزحیلي په نظر، ناموس وژنې شرعاً تحریم دي ځکه د نفس او نسل ساتنه د شریعت اصلي مقاصد دي؛ سزا یې تعزیري ده چې حاکم پر اجتهاد ټاکي او هیڅ فقهي نص یې ته جواز نه ورکوي.[۳۹] خو د القرضاوي له نظره عرف د تعزیري جزا او عمدي قتل په صفت پیژني، خو د ناموس وژنو مشروعیت په بشپړه توګه نه ورکوي او ټول دا د شرعي مقاصدو په محدود چوکاټ کې جواز لري.[۴۰] که څه هم دواړه علماً فقهي حل وړاندې کوي خو کلتوري بدلون (لکه عزت، ناموس) ته نادیده ګوري خو دا موضوع په دې قسم کلتورونو کې عملي کول یې ډېر ستونزمن دي.

---

[34] Park - Charles Mwihambi, “Reducing Hate Crimes”, 497.

[35] Welsh - Piza, “Crime Prevention for Social Impact and Social Justice”, 19.

[36] Ojukwu - Biereenu-Nnabugwu, “Criminals’ Recourse to Indigenous Spirituality and Crisis of Crime Control in Anambra State”, 107.

[37] Dayan, “Ethnocultural Diversity in Homicide Crime Scene Staging”, 101.

[۳۸] وهبة بن مصطفى الزحيلي، *جرائم الشرف في الفقه الإسلامي والقانون* (دمشق: دار الفكر، ۲۰۰۵ م)، ۳۴۰-۱.

[۳۹] الزحيلي، *جرائم الشرف في الفقه الإسلامي والقانون*، ۱۸۸.

[۴۰] القرضاوي، *فقه الجريمة والعقوبة في الإسلام*، ۲۹۵.

ډېری مطالعې د معلوماتو راټولولو او کلتوري حساسیت محدودیتونه مني. د د وژنې د جرم د صحنې جوړونې پدیدې په اړه څېړنه یادونه کوي چې راتلونکي مطالعات باید کلتوري عوامل په ډېر سیستماتیک ډول وڅېړي.[41] سربېره پردې ځینې څېړنې په ځانګړو سیمه‌ایزو شرایطو تمرکز کوي، په بالقوه توګه نورو کلتوري ترتیباتو ته عمومي کولو محدودوي.

**۴. د شواهدو کیفیت**

په بېلابېلو څېړنو کې د شواهدو کیفیت له یو بل سره توپیر لري؛ ځینې مطالعات د لویو معلوماتي ډېټابېسونو پر بنسټ سیستماتیک تحلیلونه وړاندې کوي، په داسې حال کې چې ځینې نورې څېړنې په کوچنیو کیفیتي نمونو تکیه کوي. د دغو مطالعاتو د وخت لړۍ (۲۰۰۰–۲۰۲۴) هم تاریخي شرایط او هم معاصرې اړیکې تر پوښښ لاندې راولي.[42]

**۴. ۱. عملي غوښتنلیکونه**

بعضې څېړنه وړاندیز کوي چې د اصلاحی پاملرنې داسې خدمات رامنځته شي چې دودیز باورونه او ارزښتونه په پام کې ونیسي، خو په عین وخت کې د شواهدو پر بنسټ علمي کړنې هم وساتي.[43] د قانون پلي کوونکو ادارو او قضایي کارکوونکو لپاره د کلتوري پلوه باخبره او معلوماتي روزنیزو پروګرامونو پلي کول اړین بلل کېږي.[44] د داسې پروګرامونو پرمختیا چې کلتوري حساسیتونه په نظر کې ونیسي، خو په عین حال کې زیان منې ټولنې د هغو دودیزو کړنو له منفي اغېزو څخه وساتي چې د خلکو ژوند او حقونو ته زیان رسوي.[45]

**۴. ۲. نظري تړاو**

دا څېړنه د دې په پوهېدو کې مرسته کوي چې څنګه کلتوري اړخونه (فردي او اجتماعي) د جرمي چلند په نمونو اغیز کوي.[46] دا د متقابلو لارو چارو اړتیا هم روښانه کوي چې د کلتور، ټولنیز اقتصادي عواملو او د جنایی عدالت د پایلو ترمنځ تعامل په پام کې نیسي.[47]

---

[41] Dayan, "Ethnocultural Diversity in Homicide Crime Scene Staging", 99.

[42] Sharpe et al., "Exploring Research on the Coping Strategies of Black Survivors of Homicide Victims", 38.

[43] Aliyu et al., "Cultural Themes Related to Oral Health Practices, Beliefs, and Experiences in Nigeria", 15.

[44] Wainwright et al., "A Lack of Cultural Understanding and Sometimes Interest", 116.

[45] Owusu, *Superstition-Driven Violence Against Children and the Elderly in Ghana and Kenya: A Criminological Analysis*, 189.

[46] Dayan et al., "Exploring Homicide Diversity", 235.

[47] Gregg Barak et al., *Class, Race, Gender, and Crime: The Social Realities of Justice in America* (Lanham, MD: Rowman & Littlefield Publishers, 2010), 190-195.

### ۴. ۳. د څېړنې تګلاره او مواد

په دې څېړنه کې د کیفي څېړنیز میتودونو څخه کار اخیستل شوی، تر څو د قتل په ارتکاب کې د کلتوري او قومي فکتورونو نقش په علمي ډول تحلیل شي. د څېړنې د اعتبار او دقیق والي لپاره لاندې کړنلاره غوره شوې ده:

### ۴. ۵. د معلوماتو راټولولو میتودونه

الف) مرکې (Interviews): قومي مشرانو او د متضررینو له خپلوانو سره نیمه ساختاری مرکې ترسره شوې دي.

ب) پوښتنلیک (Questionnaire): د څېړنې لپاره ځانګړی پوښتنلیک ترتیب شوی او د بېلابېلو قومونو له وګړو سره شریک شوی، تر څو د هغوی نظریات راټول شي.

### ۴. ۶. د نمونې (Sample) ټاکنه

د څېړنې لپاره هدفمنده (purposive) نمونه اخیستل شوې، چې په کې د خوست ولایت د اسماعیل خېلو او مندوزیو ولسوالۍ د سموات کلي مختلف قشرونه لکه نارینه، مشران او د مختلفو قومونو استازي شامل دي چې تعداد یې د ضرورت پر بنا تر څوارلسو پورې او چې عمرونه یې له ۲۵ څخه تر ۷۳ انټروال کې ول.

### ۴. ۷. د څېړنې محدودیتونه

څېړنه له ځینو محدودیتونو سره مخ وه، لکه د ځینو خلکو له خوا د معلوماتو نه ورکول، د امنیتي شرایطو محدودیتونه، او د ځینو قومونو د داخلي معلوماتو په برخه کې د همکارۍ نه کول.

### ۴. ۸. د څېړنې اخلاقي اصول

په دې څېړنه کې د معلوماتو د راټولولو لپاره د کیفي څېړنې میتود کارول شوی دی. د څېړنې لپاره بنسټیزې وسیلې مرکې وې، چې له بېلابېلو عمرونو، قشرونو، او سیمو سره اړوند اشخاصو سره ترسره شوې دي. د څېړنې د اخلاقي اصولو د مراعت لپاره، د مرکو پر مهال د ګډونوالو د حریم خوندیتوب ته ځانګړې پاملرنه شوې ده، او د هغوی د اصلي نومونو پر ځای مستعار نومونه کارول شوي دي، ترڅو د ګډونوالو هویت پټ پاتې شي او د هغوی امنیت خوندي شي. دا د څېړنې د باور وړتیا لوړوي او د اخلاقي معیارونو سره سمون لري.

### ۵. موندنې

**اوله پوښتنه:** د خوست ولایت د اسماعیل خېلو او مندوزیو ولسوالۍ د سموات کلي فرهنګي او قومي فکټورونه څنګه د قتل د ارتکاب پر عمل اغېزه کوي؟

